مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۵/۱۱/۲۲

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او نهمه برخه)

**له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۴)**

**د امریکا د ویرجینیا په ایالت کې د سي‌آی‌ای پر چاروا‌کو ډزې**

۳۵ کلن پښتون ایمل خان کاسي په ۱۹۹۳ز. کال، د جون په ۲۵مه نېټه د امریکا د ویرجینیا ایالت، د لېنګلي په سیمه کې (چې د سي‌آی‌اې مرکز دی) د سي‌آی‌اې پر کارکوونکو ډزې وکړې، **په دې برید کې کاسي د سي‌آی‌اې دوه تنه کارکوونکي ووژل او درې نور یې ټپیان کړل.**

د پېښې په سبا ورځ کاسی په یوه الوتکه کې پاکستان او بیا کوېټې ته ولاړ. د ۱۹۹۳ز. کال د فبرورۍ په ۱۶مه نېټه، نوموړی په غیاب کې د قتل په تور تورن شو. هغه څلور کاله د ډیورنډ کرښې شاوخوا کې په پټه اوسیده.
کاسی د امریکا د استخباراتو، ایف‌بي‌آی او د پاکستان د آی‌اېس‌آی کارکوونکو لهٔخوا وغولول شو او د ډیورنډ کرښې شاوخوا څخه د پنجاب ایالت دیره غازي خان ښار ته ولاړ او هلته د شالیمار په نوم په یو هوټل کې ځای‌پرځای شو. د ۱۹۹۷ز. کال د جون په ۱۵مه نېټه، سهار څلور بجې، د پاکستان د استخباراتي او امنیتي ادارو په مرسته، د ایف‌بي‌آي یوې وسله‌والې ډلې په نوموړي هوټل یرغل وکړ او کاسی ونیول شو، د هغه د ګوتو نښې واخېستل شوې او پېژندنه یې تایید شوه. د امریکا چارواکي وايي چې کاسی د پاکستان امنیتي ادارو اړوند یو ساتنځای ته یوړل شو[1] چې بیا امریکا ته ولېږدول شو او د الوتنې په اوږدو کې، کاسي د تحقیق په جریان کې، ایف‌بي‌آي ته بشپړ شفاهي او لیکلي مالومات ورکړل.[2]

د ایمل خان کاسي په وینا، هغه د سی‌آی‌اې کارکوونکي له دې کبله ووژل چې **«په منځني ختیځ کې، په ځانګړي توګه د فلسطینیانو پر وړاندې د امریکا سیاست ډېر سخت په قهر کړی وم.»**[3]

ایمل خان کاسی چې پاکستان ته تښتیدلی ؤ، امریکا یې پر سر (۵/۳) میلیونه ډالر جایزه ایښې وه، د دغو پیسو د ترلاسه کولو په موخه پاکستاني چارواکو ایمل کاسی، د نورو مجاهدینو په څېر پر امریکایانو وپلوره.
یو تن امریکایی څارنوال (رابرټ ایف. هوران جونیَر) چې پاکستاني چارواکي یې ښه پېژندلي وو، امریکا ته د کاسي د سپارلو او د هغه د محاکمې پر مهال وویل: **«پاکستانیان حاضر دي، د ډالرو په بدل کې خپله مور هم خرڅه کړي.»**

---

[1]: Justice A. Christian Compton, Virginia Supreme Court Opinion on Mir Aimal Kansi, 6 November 1998. http://www.courts.state.va.us/opinions/opnscvwp/1980797.pdf

[2]هماغه

[3]: ARCHIVES CNN Pakistani man executed for CIA killings 15 November 2002 http://archives.cnn.com/2002/LAW/11/14/cia.killings.execution/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**کاسي د ۲۰۰۲ز. کال د نومبر په ۱۴مه نېټه، په امریکا کې د زهرو ستنې په ورکولو سره ووژل شو.**[4] د کاسي مړی پاکستان ته وسپارل شو. د هغه په جنازه کې د بلوچستان ایالت ټولو حکومتي مشرانو، د پاکستان د پوځ سیمه‌ییز قوماندان او په امریکا کې د پاکستان سفیر، قاضي اشرف جهانګیر هم ګډون درلود.[5]

لکه پورته چې یادونه وشوه، امریکایي څارنوال ګرم نه ؤ چې خپله خبره یې کړې وه، عجیبه او خندوونکې ده چې هم یې ایمل کاسی پر امریکایانو وپلوره، بیا یې پر مرګ اوښکې تویولې:

**هم مې ووژني په خپله هم په ما پورې ژړا کا**
**څه ښه یار دی ښه یې مینه، وژل هسې، شېوَن هسې**
(خوشال بابا)

دا د پاکستان د پنجابیو چارواکو د غداریو یوه بېلګه ده چې د پښتنو پر وړاندې یې ترسره کوي او دا لړۍ همداسې روانه ده، د ایمل کاسي په څېر په سلګونو پښتانه او نور ډېر خلک یې پر امریکایانو پلورلي دي.[6]

[**د امریکا د نیویارک ښار پر نړیوال سوداګریز مرکز د موټربم برید**]()

د امریکا په خاوره کې دننه، د ایمل خان کاسي له برید، ۸میاشتې وروسته، د ۱۹۹۳ز. کال، د فبرورۍ په ۲۶مه نېټه، د نیویارک ښار په نړیوال سوداګریز مرکز، د شمالي برج لاندې د موټرو په تمځای (پارکېنګ) کې د موټربم یوه چاودنه وشوه. په دغه برید کې بریدکوونکو ۱٬۳۳۶ پونډه (۶۰۶ کیلوګرامه) د (یوریا نایټرېټ ـ هایدروجن) ګاز ترکیبي توکي کارولي وو، د بریدګرو موخه دا وه چې د نړیوالې سوداګرۍ شمالي برج د چاودنې له امله پر جنوبي برج باندې ورپرېوزي او دواړه برجونه ونړول شي نو په پایله کې به لسګونه زره وګړي ووژل شي. بریدکوونکي خپلې موخې ته ونه رسېدل، **بیا هم په چاودنه کې شپږ کسان ووژل شول (چې یوه دوه‌خانه (حامله) ښځه هم په کې وه) او له ۱۰۰۰ تنو څخه ډېر کسان ټپیان شول.**[7] دا برید د یوې ډلې له‌خوا شوی ؤ چې د ډلې مشري بلوڅ‌توکمه رمزي احمد یوسف کوله، رمزي احمد یوسف هیله درلوده چې په دواړو برجونو کې چې د ده په اټکل (۲۵۰٬۰۰۰) کسان په کې اوسېدل، **له اسراییلو څخه د امریکا د ملاتړ په بدل کې ووژل شي.**

سره له دې چې نومړی برج د چاودنې له امله نسکور نه شو خو د ودانۍ د موټرو د تمځي برخه ډېره زیانمنه شوه. که چېرې دغه (وین) [فلانګ کوچ ډوله] موټربم د ودانۍ د کانکرېټي ستنو (پایو) ته نږدې چاودلی وای، شوني وه چې د رمزي یوسف پلان به بریالی شوی ؤ.[8]

رمزي یوسف له برید لږ وړاندې [یا وروسته] د نیویارک بېلابېلو ورځپاڼو ته لیکونه استولي وو، هغه په یو لیک کې نیویارک ټایمز ته خپله موخه او انګیزه څرګنده کړې وه لیکلي یې وو چې «موږ، **(د آزادۍ پوځ، پنځم کنډک)** د دغې

[4]: *Glod, M.; Weiss, E. (15 November 2002). "Kansi Executed For CIA Slayings". Washington Post. Archived from the original on 6 November 2012.* Retrieved *10* March 2022. https://web.archive.org/web/20121106213221/http://pqasb.pqarchiver.com/washingtonpost/access/239005481.html?dids=239005481:239005481&FMT=ABS&FMTS=ABS:FT&date=Nov+15,+2002&author=Maria+Glod++and+Eric+M.+Weiss&pub=The+Washington+Post&edition=&startpage=A.01&desc

[5]: https://www.dawn.com/news/67075/aimal-kasi-executed

[6]:(په دې اړه د ډېرو مالوماتو لپاره د جنرال پرویز مشرف د خاطرو کتاب: د اور پر لیکه ولولئ)

[7]:FBI 100 First Strike: Global Terror in America". FBI.gov. Archived from the original on September 3, 2011. Retrieved September 8, 2011 https://web.archive.org/web/20110903024103/http:/www.fbi.gov/news/stories/2008/february/tradebom_022608

[8]:https://web.archive.org/web/20050316140649/http:/msnbc.msn.com/id/3069653/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ودانی د چاودني مسئول يو، **موږ دا برید د امریکا او د سیمې نورو دیکتاتورو هیوادونو لهخوا، د اسراییلو له ترهګر دولت څخه د سیاسي، اقتصادي او پوځي ملاتړ په ځواب کې کړی دی.**

هغه لاندې درې غوښتنې کړې وې، ویلي یې وو چې که غوښتنې یې ونه منل شي، د دوی کسان به خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي:

**۱ـ پر اسراییلو د ټولو پوځي، اقتصادي او سیاسي مرستو بشپړ درول.**
**۲ـ له اسراییلو سره د ټولو ډیپلماتیکو اړیکو قطع کول.**
**۳ـ د منځني ختیځ هیوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کول.**

که دا غوښتنې ونه منل شي، زموږ ټول پوځي عملیاتي ډلې به د امریکا د ننه او بهر کې د دوی پر پوځي او ملکي اهدافو باندې خپل عملیات جاري وساتي.
تاسو دې خبر وئ چې زموږ پوځ له (۱۵۰) څخه ډېر سرتېري (ځانمرګي) د تیارسۍ په حالت کې لري چې د بریدونو لپاره چمتو دي.
**د اسراییلو هغه ترهګري (چې امریکا یې ملاتړ کوي)، باید په ورته ترهګرۍ سره ځواب ورکړای شي.**
**هغه دیکتاتوري او ترهګري (چې هغه د امریکا لهخوا حمایه کیږي) او یو شمېر هیوادونه یې د خپلو خلکو پر وړاندې عملي کوي، باید له ورته غبرګون (تروریزم) سره مخ شي.**
**د امریکا خلک باید پوه شي چې هغه ملکي امریکایان چې زموږ په بریدونو کې وژل کیږي، له هغو کسانو څخه غوره نه دي چې د امریکا د وسلو او ملاتړ په وسیله [په فلسطین کې] وژل کیږي.** امریکایي وګړي د خپل دولت د کړنو مسئولیت پر غاړه لري او باید د هر هغه جنایت پوښتنه ترې وکړي چې د دوی دولت یې د نورو وګړو پر وړاندې ترسره کوي. که نه نو هغوی (امریکایان) به زموږ د بریدونو موخه وګرځي، داسې بریدونه چې دوی به کمزوري کړي.»[9]

رمزي احمد یوسف څو ساعته وروسته له برید څخه پاکستان ته وتښتېد. **امریکا د هغه په سر دوه میلیونه ډالر جایزه اعلان کړه.**

د ۱۹۹۵ز. کال په فبرورۍ کې، یو کس چې د رمزي یوسف پر سر یې د دوو میلیونو ډالرو د جایزې اعلان په یو جیبي اورلګید لیدلی ؤ نو د جایزې د ترلاسه کولو په موخه د پاکستان په اسلامآباد کې امریکایي سفارت ته ورغی او د یوسف د پټنځي په اړه یې مالومات ورکړل. هغه وو چې د همدې کال د فبرورۍ په ۷مه ورځ د پاکستاني استخباراتو آیاېسآی او د امریکا د ډیپلوماتیک امنیت ځانګړو افسرانو د اسلامآباد د (سو کاسا؟) پر مېلمهستون عملیات وکړل او رمزي یوسف یې وړاندې له هغې چې پېښور ته ولاړ شي، ونیو او امریکایانو ته یې وسپاره. پر رمزي یوسف، نور تورونه هم ولګول شول، وایي چې هغه په فیلیپین کې د یو پېچلي ترهګریز پلان جوړولو پر مهال لیدل شوی ؤ، هغه غوښتل چې د ۱۹۹۵ز. کال د جنورۍ پر ۱۴مه نېټه، دویم پل (ژان) د فیلیپین د سفر پر مهال ترور کړي او څو ورځې وروسته په اسیا کې د امریکا یوې الوتکې ته چاودنه ورکړي.[10]

د ۱۹۹۷ز. کال د نومبر په ۱۲مه ورځ، رمزي احمد یوسف د ۱۹۹۳ز. کال د موټربم په پېښه کې مجرم وپېژندل شو. په ۸ جنوري ۱۹۹۸ز. کال د جنورۍ په ۸مه، قاضي (کیون تي ډافي) یوسف د (فتنهاچوني) د توطیې په تور بیا مجرم وپېژاند او هغه ته یې د عمر بند تر څنګ، ۲۴۰ کاله نور بند هم ورکړ. قاضي سپارښتنه وکړه چې یوسف دې ټوله دوره په ځانځاني (انفرادي) بند کې تېره کړي.
سربېره پر دې رمزي احمد یوسف د محکمې لهخوا په ۴.۵ میلیونو نغدي ډالرو جریمه شو او د پېښې قربانیانو ته د ۲۵۰ میلیونو ډالرو په ورکولو هم اړ شوی دی.[11]

---

[9]:استیون امرسون، *جهاد ثبتشده: راهنمایی برای اسلام ستیزهجو در ایالات متحده* ، صفحه ۲۷، انتشارات پرومتئوس، ۶-۲۴۵۳-۰۵۹۱۰-۱(د ویکیپیډیا په استناد)

[10] https://rewardsforjustice.net/success-stories/ramzi-ahmed-yousef
[11] :https://www.upi.com/Archives/1997/11/12/UPI-Focus-Pair-guilty-in-1993-WTC-bombing/4140879310800


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

یوسف په خپلو لیکونو کې منلې وه چې د نړیوال سوداګریز مرکز بمي برید یو ترهګریز عمل دی. **خو د هغه توجیه دا وه چې:«هغه ترهګري چې اسراییل یې ترسره کوي (او امریکا یې ملاتړ کوي)، باید پر وړاندې یې ورته ترهګریز غبرګون ترسره شي.»**[12]

رمزي احمد یوسف د ۱۹۹۸ز. کال د محاکمې پر مهال د محکمې له قاضي کیون تي ډافي نومي پر وړاندې شاوخوا ۲۰ دقیقې په خپله وینا کې پر امریکا سختې نیوکې وکړې او امریکا یې د ترهګرۍ مخترع وبلله، هغه وویل:
«تاسو [امریکایان] تل د ډلېزو سزاګانو او بې‌ګناه خلکو د تولوژنو په اړه خبرې کوئ او د دولتونو د سیاستونو د بدلون لپاره تری کار اخلئ خو که نور څوک دا کار وکړي، هغو ته ترهګر وایئ، **ربښتیا دا دي چې تاسو په خپله د دې دول ترهګرۍ مخکښان یئ.**
**تاسو لومړني کسان وئ چې بې‌ګناه انسانان مو ووژل او ترهګري مو بشري تاریخ ته ورووپېژندله. کله چې تاسو د جاپان [پر هیروشیما او ناګاساکي ښارونو] باندې اتومي بمونه وغورځول، په لسګونو زره جاپانی ښځې او ماشومان مو ووژل او هغه مهال چې تاسو [د جاپان په پلازمېنه] توکیو کې له سلو زرو ډېر جاپانیان د اوربمونو په وسیله ژوندي، ژوندي وسوځول چې ډېری یې ملکي وګړي وو.**

**تاسو په ویتنام کې ملکي خلک د کیمیاوي توکو، په ځانګړي ډول، د نارنجي په نوم وژونکي وسلې په وسیله ووژل.**
په هره جګړه کې تاسو یوازې ملکي وګړي وژلي، نه پوځي خلک. تاسو په دې پېړۍ کې د هر بل هېواد په پرتله ډېرې جګړې کړې دي **او بیا هم په جرأت سره، د بې‌ګناه خلکو د وژلو په اړه خبرې کوئ!**
نن ورځ تاسو د انسانانو د وژلو نورې نوې لارې هم رامنځ ته کړې دي. **تاسو د اقتصادي بندیزونو په نوم وسله په لاس لرئ چې قربانیان یې یوازې ماشومان او زاړه خلک دي.** له ۳۵ کلونو زیاته موده کېږي چې پر کیوبا او نورو ګڼو هېوادونو باندې مو اقتصادي بندیزونه لګولي دي... او اوس مو عراق هم په نښه کړی دی.

د [امریکا] حکومت په خپلو لومړنیو څرګندونو کې ویلي چې زه یو ترهګر یم.
**هو! زه ترهګر یم او پرې ویاړم. تر هغې چې د امریکا او اسراییلو پر وړاندې کارول کېږي، زه به د ترهګرۍ ملاتړ کوم، ځکه تاسو یوازې ترهګر نه یئ، تاسو هغه څوک یاست چې ترهګري مو اختراع کړې او هره ورځ یې عملي کوئ. تاسو دروغجن، او منافق قصابان یاست.»**[13]

د محکمې قاضي کیون تي ډافي، د رمزي احمد یوسف د وینا په غبرګون کې لاندې څرګندونې وکړې چې وروسته به د دواړو خبرې وارزول شي:
رمزي یوسفه! ته ادعا کوې چې یو اسلامي مجاهد یې، په هغو تولو کسانو کې چې د نړیوال سوداګریز مرکز په بمي برید کې ووژل شول او یا ټپیان شول، نه شي کولی داسې یو کس په ګوته کړې چې ستا او ستا د موخو مخالف وي، تا دوی ته اهمیت ورنه کړ، تر هغې چې خلک دې مړه او ټپیان کړل.
رمزي یوسفه! ته د اسلام د دفاع وړتیا نه لرې، **ستا خدای مرګ دی، ستا خدای الله نه دی...** ته د مذهب د بدلون په لټه کې نه وې [چې نامسلمان، مسلمان کړې] تا یوازې غوښتل، وژنې ترسره کړې، **ستا خدای الله نه دی، ته وژنې لمانځې، کوم کار چې ته کوې د الله لپاره نه دی؛ ته یوازې خپل منحرف او ځان‌غوښتونکي نفس ته خدمت کوې.**
ته داسې څه کوې چې نور باور وکړي چې ته یو سرتېری یې خو پر تمدن باندې ستا بریدونه (چې له امله یې ته دلته محکوم شوی یې) پټ بریدونه وو چې موخه یې وژنې او د سوچه بې‌ګناه خلکو معیوبول وو... ته، رمزي یوسف، دې هېواد ته د اسلامي بنسټپالنې په بڼه راغلی وې خو اسلام او د مسلمانانو ایمان ته دې لږ ارزښت ورکړ، یا دې هېڅ ارزښت ورته ونه‌کړ، **تا د خدای د عبادت پر ځای، د هغه شر عبادت کاوه چې په خپله په شر اوښتی یې** او باید ووایم چې د شر د استازي په توګه دې خورا ډېر اغېز کړی دی.»[14]

---

12:https://web.archive.org/web/20190413034959/https:/www.rand.org/blog/2001/09/religion-isnt-sole-motive-of-terror.html

13: Excerpts From Statements in Court, Jan.9,1998
https://www.nytimes.com/1998/01/09/nyregion/excerpts-from-statements-in-court.html

14 هماغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

رمزي احمد يوسف، په خپلو څرګندونو کې د امریکایانو پر ځینو تاریخي جنایتونه خبرې وکړې، هغه امریکایا او اسراییل ترهګر وبلل خو خپل ځان یې هم ترهګر وباله چې د ترهګرۍ په اړه د یوسف دا ډول لیدلورۍ د ترهګرۍ په پیژندلو کې مرسته نه کوي، دا ربښتیا ده چې د ترهګرۍ تعریف لا تر اوسه په بشپړه توګه نه دی شوی.

د محکمې قاضي ډافي، نه یوازې رمزي یوسف د هغه د کړنو له امله محاکمه کړ، بلکې د هغه د ګروهې په اړه یې هم تورونه پورې کړل، نوموړي قاضي د یوسف د څرګندونو په تړاؤ یوه خبره هم ونه کړه، ډافي ونه ویل ترهګري څه ډول عمل دی.
قاضي ونه شول کولی، د تاریخ په اوږدو کې (لکه څرنګه چې یوسف یې یادونه کړې وه) د امریکا ستر جنایتونه (ترهګري) توجیه کړي، هغه نه شول ویلی چې د امریکا په وسلو او پیسو باندې په منځني ختیځ کې د بې‌ګناه خلکو تولوژنې نه کیږي.
قاضي ډافي چې کوم معقول ځواب یې په سر کې نه درلود، رمزي یوسف یې تورن کړ چې د الله تعالی د عبادت پر ځای، د شر او مرګونو عبادت کوي.
**په داسې حال کې چې نړیوال پوهیږي چې اسراییل پلوه امریکایان او اسراییل د شر او تباهۍ خدایانو عبادت کوي او ټول پوهیږي چې پر امریکا باندې هر ډول بریدونه، په منځني ختیځ کې له اسراییلي دولتي ترهګرو څخه د امریکایانو د غوڅ ملاتړ په غچ او ځواب کې ترسره کیږي.**[15]

نېټه:۱۴۰۴/۹/۲ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

[15]: موږ په دې باور یو چې عام او ملکي وګړي باید تر برید لاندې رانه شي، ځکه چې په ملکي خلکو کې به داسې خلک هم وي چې هغه به ستا غوندې باور لري او ستا په څېر به د ظلمانو مخالف وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ